# قاضي عطاءالله خان

# د صدارت خطبه

دا يادګاري تقرير قاضي عطاءالله چې د هغه وخت د پښتونخوا د تعليم وزير ؤ، په مارچ **1938** کښې د اسلاميه کالج پېښور د کانوکېشن تقريب ته کړے ؤ. مونږ ئې د قاضي صاحب د **57** تلين په مناسبت د "پښتون" لوستونکو ته په خصوصي توګه وړاندې کوو.



ما د ډېر تامل نه پس ستاسو د پرنسپل دعوت نامه قبوله کړه، ولې چې د داسې خطبې دپاره ضروري خاصيتونه مې په ځان کښې نهٔ ليدل، لېکن دا موقع راله په لاس راغله چې زهٔ به تاسو ته د يو لوئې تعليم دان يا سياست دان په حېثيت نهٔ بلکې د يو طالب علم په حېثيت خبرې وکړم. مونږ ټول طالبان يُو، څوک د کتابونو او څوک د ژوندون د لوئې کتاب.

د خطبې نه اول زهٔ تاسو ته ستاسو د ډګرو په حاصلولو مبارکي درکوم، تاسو کښې به بعضې وړاندې سبق وائي او بعضې به د عملي ژوندون مېدان ته وځي، هر ځائې چې يئ زما ښهٔ خواهشات تاسو سره دي او زهٔ ستاسو د کاميابۍ او عزت مندۍ دپاره دعا کوم.

ورونړو! دا يو حقيقت دے چې تاسو کښې چا تعليم حاصل کړے دے او څوک لګيا دي حاصلوي ئې، دا ستاسو د پلارانو يا سرپرستانو د غور او د محنت يوه لويه ثمره ده چې هغوي تاسو دلته رالېږلي يئ او ستاسو د خرڅ او پالنې ذمه وار دي، ځکه مونږ دا وئيلے شو چې ستاسو په دې نتيجو کښې د هغوي هم ښکاره او ظاهره حصه ده، لېکن تعليم سره د ټول قوم تعلق دے، زمونږ په تعليم کښې چې څومره حصه زمونږ د مور او پلار او د مددګارو ده، د هغې نه زياته او ډېره ضروري حصه د ټول قوم ده، مدرسې، کالجونه او يونيورسټۍ د قومي معاونت او قومي امداد نتيجه وي، د دې د اخراجاتو دپاره په ټول قوم ټېکسونه لګي، په

مدرسو په کالجونو او یونیورسټو کښې د قسم قسم فرقو، ټولو د عقیدو هلکان رایو ځائے کېږي، پس د قوم کار صرف مالي امداد ورکول نهٔ دي، بلکې دا ټول ټولي هم را یو ځائے کول دي چې بغېر د دې نه تعلیم ناممکن دے.

یو طالب علم چې د مدرسې، د کالج یا د یونیورسټۍ نه بالکل جدا تعلیم حاصل کړے وي، هغه ته تعلیم یافته وئیل نهٔ دي پکار، ځکه چې هغه د تعلیم یافته هیڅ صفات نهٔ لري، د یو ملک د طرز تعلیم ذمه وار ټول قوم دے، دا حقیقت به تاسو ته د دې مثال نه ظاهر شي چې په یو کم تعلیم یافته طبقه کښې د بچو د تعلیم نه د غافله کېدو الزام په یو څو مالدارو والدینو نهٔ لګي بلکې د دې اولني فرض په پرېښودو ټول قوم بدنام وي، پس کهٔ چرې دا رښتیا وي لکه چې دي چې قوم د خپلو خلقو د تعلیم ذمه وار دے، نو هر سړے به دا ووینې چې قوم حق لري چې د خپلو تعلیم یافته هلکانو نه چې قوم هغوي سره ډېر محنت کړے دے او د هغوي دپاره ئې ډېرې قربانۍ کړې دي، په بدل کښې څهٔ مناسب شے وانهٔ خلي، دا بدل په قسما قسم شکلونو کښې ورکړے کېدے شي، د یو ملک تعلیم یافته خلق قومي شان او قومي عزت زیاتوي، د تهذیب معیار اوچتوي او د قوم عزت او درناوے د نورو ملکونو په نظر کښې پېدا کوي.

مونږ ته دا ښه معلومه ده چې تعلیم او شائستګي برغ ځیزونه دي، شائستګي د اصلي او حقیقي تعلیم نتیجه ده، پس تعلیم یافته خلق د قومي شائستګۍ خزانه ده او کهٔ چرې یونیورسټۍ په ډېر تعداد کښې تعلیم یافته خلق پېدا کړي نو د هغې قدرتي نتیجه دا وي چې د قوم شائستګي زیاته شي او دا یو ډېر عزت او درناوے دے چې تعلیم یافته خلق اکثر د قانون پابند وي او ښهٔ اوسېدونکي وي. د تعلیم یافته خلقو تعداد زیاتېدل د قانون د پابندانو او د ښو اوسېدونکو زیاتېدل دي. دا د قوم دپاره یوه بله د درناوي خبره ده، قوم ته د خپلو تعلیم یافته خلقو نه څهٔ نا څهٔ فائدې ضرور رسي نو اې زما ورونړو! تاسو د خپل ملک حاصلات یئ، فخر یئ، د خپل ملک د شائستګۍ، د عزت، د درناوي محافظان یئ، تاسو له په تعلیم در کولو کښې قوم قربانۍ کړې دي، اګر چې د قوم عزت د تعلیم یافته خلقو په زیاتېدو سره زیات شوے دے، لېکن دا فائده څهٔ دومره زیاته نهٔ ده،ولې چې تاسو د دې دپاره څهٔ قرباني کړې نهٔ ده، زهٔ به تاسو ته په لږو ټکو کښې ووایم چې د تعلیم په حاصلولو کښې د قوم او د ملک د طرف نه په تاسو کوم کوم فرائض پراتهٔ دي، ستاسو تعلیم او د دنیا د کمالاتو نه واقفیت به تاسو داده کړي یئ چې قومي عزت د سیاسي آزادۍ بل نوم دے، تهذیبي ترقي، دماغي نشو و نما او د قومي حکومت نه بغېر ناممکنه ده، یو قوم هم خپل تهذیبي، د ماغي او مالي حالت له ترقي نهٔ شي ورکولے تر څو پورې چې د دې ترقۍ د ذریعو د استعمالولو دپاره و رسره مکمله آزادي نهٔ وي او دا مکمله آزادي تر هغې نهٔ شي کېدے تر څو چې طرز حکومت بالکل قومي نهٔ وي، دا خو لا پرېږدئ.

د تعلیمي اصلاح دپاره هم قومي حکومت ضروري دے، کهٔ چرې تاسو کښې تعلیم د قومي تهذیب روح پوک وهلے وي، کهٔ چرې تاسو کښې ئې

د دماغي او اخلاقي ترقۍ شوق پیدا کړے وي، کهٔ چرې تاسو ته دا معلومه وي چې تاسو د قوم مال جائیداد یئ او د قوم عزت او درناوے ستاسو په حفاظت کښې دے نو بیا به ضرور تاسو په دې سوچ وکړئ چې د قوم خدمت کول څهٔ رنګ ستاسو فرض دي او څهٔ رنګ به ئې عزت او درناوے زیات کړئ، هر کله چې سیاسي آزادي د هر قسم ترقۍ بنیاد دے او سیاسي غلامي د هر قسم ذلت دے نو ستاسو وړومبے کوشش دې د خپل ملک د آزادۍ حاصلولو دپاره وي چې بغیر د دې نه د ژوندون په هیڅ حصه کښې اصلي ترقي ناممکنه ده.

مونږ د غیر حکومت د لاندې یُو او د غیر حکومت د زنځیرونو نه ځان خلاصول یو ډیر لوئے کار دے. تاسو ته خو معلومه ده چې هندوستان نهٔ صرف یو ملک دے بلکې یو براعظم دے چې په کښې د قسماقسم عقیدو د قسماقسم ژبو قسماقسم شائسته خلق آباد دي، باوجود د دې لږ اختلافونو مونږ کښې ډیرې خبرې د یووالي دي، په شریکه رایه یو غیر حکومت دے چې هغې د لاندې مونږ یو نیم سل کاله اوسېدلي یُو، مونږ ئې غریبان کړي یُو. زمونږ مالي حالت ئې دړې وړې کړے دے او د مهذبې دنیا په نظر کښې ئې زمونږ قومي عزت او درناوے برباد کړے دے. په خپل ملک کښې هم او په بهر هم مونږ د نفرت قابل یُو، غلام مخلوق ګڼلے شو، علاوه د دې نه زمونږ شریک مفاد دے، شریک قومي عزت، شریک روایات او زمونږ د دولت او د آسوده حالۍ په شریکه تباه کېدل دي، دا هغه پړي دي چې مونږ را یوځائے کوي او دا هغه پړي دي چې نور خلق ئې په نورو ملکونو کښې را یوځائے کړي دي، فقط د عیسایانو او د یهودیانو سیاسي جګړې زمونږ دپاره په دې ملک کښې کافي سبق ګرځیدے شي.

زمونږ د شریکو مفادو مشترک مخالف سره د جنګیدو دپاره دا ضروري ده چې د موافقت ډیرې خبرې ځان ته وړاندې کړو او د اختلاف لږې خبرې شاته کړو.

کهٔ مونږ هندوستانیان په قومونو کښې په عزت اوسېدل غواړو نو مونږ له هر قسم کوشش پکار دے چې خپل تهذیبي، مالي، جسماني، دماغي معیار دومره اوچت کړو څنګه چې نورو قومونو اوچت کړے دے او دا مونږ هله کولے شو چې ټول د یو قوم په حېثیت سره یو ځائے شو، خپل معمولي اختلافونه هېر کړو او خپله توجه شریکو موافقو خبرو ته راوګرځوو. سیاسي آزادۍ دپاره د تعلیم یافته طبقې د طرف نه ډیرې قربانۍ پکار دي. د دې ډلې نه قوم دا طمع لري چې دوي به د مادر وطن د آزادۍ په جنګ کښې په اول صف کښې ولاړ وي، په دې معامله کښې د هغوي نه دا امید کېدے شي چې دوي به د ناجاڼه خلقو صحیح او بې غرضه رهنمائي کوي او دوي ته به د قربانۍ، د خدمت، د یووالي او د نورو همسایه قومونو سره د ورورولۍ ساتلو مثالونه پېش کوي. تر اوسه پورې زمونږ تعلیم یافته خلقو خپله حصه کار په ښهٔ شان نهٔ دے کړے، څنګه چې ترې قوم طمع لرله، دوي به د تعلیم نه پس د خپل دنیاوي حېثیت د ښهٔ کولو اله باش کوو او د مرګ او د ژوندون په هغه جنګ کښې به ئې هیڅ حصه نهٔ اخسته، په کوم کښې چې ملک د

خپلو خلقو د آزادولو دپاره مبتلا ؤ، ټول ملک د غېر حکومت نه د ځان خلاصولو پخه اراده کړې ده او بغېر د تعليم يافته طبقې نه به هم ځان خامخا آزاد کړي، لېکن هسې نه چې د تعليم يافته خلقو بابت دا ووئيلې شي چې هر کله بې تعليمه خلقو د جنګ مېدان ته ټوپ کړۀ او خپل سر و مال ئې د وطن نه ځار کړۀ نو تعليم يافته خلقو به کتل، پس و پيش به ئې کوو، حساب به ئې لګوو او په غاړه به دې ته تيار ناست وو چې کۀ د دوي بې تعليمه وروڼو د غېر ملکي مالک د لاسه څۀ وتروړل نو دوي به په پرې ورټوپ کړي. زما په خيال کښې زمونږ په وطن کښې تعليم هغه نتيجه نۀ پېدا کوي څنګه چې په نورو آزادو او خودمختاره ملکونو کښې پېدا کوي، دا تعليم زمونږ په زړونو کښې هغه شان د قربانۍ احساس د ملک مينه محبت او د رښتياؤ پابندي نۀ پېدا کوي، مونږه ارام طلبه، خپل مطلبه، خودغرضه او مطلبيان کړي. زۀ تاسو ته عرض کوم چې د دې خرابۍ نه ځان وساتئ او د خپل ملک د قسمت فېصله کولو دپاره مېدان ته را ودانګئ.

لېکن په دې مقام زۀ تاسو ته يوه تنبيه درکول غواړم. په تاسو کښې چې څوک لا تر اوسه په مدرسه،کالج يا يونيورسټۍ کښې لګيا دې تعليم حاصلوي، هغوي دې په سياسياتو کښې عملي حصه نۀ اخلي، کۀ هر قسم سياسي خيالات لري، کۀ هر قسم سياسي ډلې سره تعلق لري، لېکن په مدرسه او کالج کښې دې ستاسو کار صرف د علم حاصلول وي چې تاسو د مستقبل دپاره ښۀ تيار کړي تر څو پورې چې تاسو دلته يئ، د دې ځائے د ضبط او د نورو قاعدو پوره پابندي کوئ او څۀ داسې کار مۀ کوئ چې په هغې ستاسو د دې درسګاه په عزت او نوم څۀ داغ ولګي.

ما د دې نه وړاندې د رنګ او د عقيدو د اختلاف ذکر کړے ؤ، زما دا مطلب نۀ دے چې دا همېشه دپاره شاته غورځول پکار دي ځکه چې د بني آدمو په ژوندون کښې مذهب يو ضروري ځائے لري، افرادو کښې او په قومونو کښې هم دا شے حرکت پېدا کوي، بغېر د دې نه به دا دنيا ګړبړ وه. هيڅ قسم حکومت يا اخلاق دومره طاقتور نۀ دي ثابت شوي چې د انسان باغيانه روح ئې په قابو کښې راوستلے وي، دا د خدائے تعالي د قهر نه وېره ده، د دوزخ د لمبو نه خطره ده چې قتل، غلا، لُوټ او بدمعاشۍ طرف ته د انسان وحشي رغبتونه په قابو کښې ساتي. د دنيا د امن دپاره کوم کار چې مذهب کړے دے، هغه د هر هغې سياسي طرز حکومت د کار نه ډېر زيات دے چې تر اوسه د بني آدم عقل جوړ کړے دے. دنيا کښې اخلاقي واعظان په ډېر تعداد کښې پېدا شوي دي، لېکن د هغوي خبرو دومره طاقت او تابعداري نۀ ده پېدا کړې، څومره چې هغې پېغمبرانو عليهم السلامو کړې ده چې ورسره د خدائے وحي او مرسته وه، د انسان په ژوند کښې د مذهب مقام ډېر ضروري دے او څوک چې مذهب ورکوي، هغه د دنيا اخلاقي تباهي کوي. مذهب د انسان اخلاقي روحاني خوراک دے چې د هغۀ د چال چلن اصلاح کوي او خدائے سره ئې داسې تعلق پېدا کوي چې د هغۀ ټول ښۀ والے او اشرافتوب ښکاره کړي او د انسان بني آدمو سره د زړۀ تعلق پېدا کوي.

اکثر دا وئیلے شي چې مذهب د صحیح قومیت د ترقۍ رفتار ورو کوي. زهٔ د دې نظریې بالکل برخلاف یم، د دنیا یو مذهب هم په خپلو کښې جګړې، حسدونه او جنګونه نهٔ خوښوي، دا ورانۍ چې پېدا کوي، دا جګړې چې جوړوي دا د بې تعلیمه خلقو پاک او اعتباري زړونه چې د هغه خلقو نه خیرنوي، چې بل مذهب لري، دا ټول مطلبیان خودغرضه، فائده لټونکي خلق وي چې د مذهبي پېشوایانو په جامه کښې دا کارونه کوي. ټول رښتیا مذهبونه خپلو منونکو ته دا حکم ورکوي چې خپلو ګاونډیانو سره به مینه کوئ، خلقِ خدا سره به ښهٔ کوئ، رښتیا به وایئ او ټولو بني آدمو سره به په ایمانداري او په انصاف چلېږئ، دا خو د مذهبونو خودغرضه او بې علمه واعظان دي چې خپلو مریدانو ته تعصب او نورو مذهبونو سره دښمني ښيي. قرآن پاک د داسې آیاتونو نه ډک دے چې پکښې ئې د هغې زمانې د عیسائي او یهودي عالمانو د تعصب په صفا لفظونو کښې مذمت کړے دے. په ډېرو موقعو کښې قرآن د عیسائیت او د یهودیت د ښو خبرو تعریف کړے دے او خپلو منونکو ته ئې دا هدایت کړے دے کهٔ چرې چا درسره بې انصافي کړې وي نو هغوي سره هم انصاف کوئ.

کهٔ چرې مذهب له په سیاسیاتو کښې څهٔ ځائے ورکول پکار وي نو هغه دا دے چې د غېرو د غلامۍ د لاندې د محکومو قومونو ټول مذهبونه هر وخت د خرابېدو او د ورکېدو په خطره کښې وي، کهٔ چرې زمونږ مذهب زمونږ زړونو ته نزدې وے نو زمونږ دې همېشه دا کوشش وي چې خپل ځانونه د غېرو د غلامۍ نه خلاص کړو چې زمونږ مذهب ترقي وکړي او په خپل ژوند کښې ترې نه فائده واخلو نو پکار دي چې مذهب له په خپله ژوند کښې هغه ځائے ورکړو، د کوم چې حقدار دے، داسې ځائے نهٔ چې زمونږ د ترقۍ رفتار سست کړي، د سیاسي آزادۍ حاصلول په اتفاق او صرف په اتفاق کېږي، څوک چې بې اتفاقي پېدا کوي او د مذهب په نامه سیاسي رفتار ورو کوي، هغوي په خپله د مذهب دښمنان دي. د داسې مطلبیانو د خُلې چغې د هغې کسانو د ډاډګېرنې په وجه دي چې د هغوي فائده زمونږ په غلامۍ کښې ده. د خپل مطلب د پاره هغوي خپل مذهب، تهذیب، قوم، هر څهٔ قربانولو ته تیار دي. اوس چې مونږ په سیاسي مېدان کښې کافي لرې تلي یُو نو زما په خیال کښې د خلقو نېتونه معلومول ډېر آسان دي او زما یقین دے چې د مذهب او د تهذیب په نامه چې کومې چغې تاسو اورئ، تاسو دومره هوښیار شوي یئ چې هغه به د عقل په تله وتلئ، تاسو به اول د دې معلومولو کوشش کوئ چې دے ځان ته د مذهب او د تهذیب محافظان ویونکو د خپل مذهب او وطن د پاره کومې قرباني کړې دي. کهٔ چرې د هغوي طرز



عمل ته تاسو په غور سره وګورئ نو تاسو ته به معلومه شي چې په ډېرو موقعو نهٔ صرف دوي د مذهب يو معمولي دنياوي فائدې سره بدلون کړے ؤ، بلکه په حقيقت کښې ترې لاس په سر شوي هم وو، کهٔ چرې د دوي مطلب په کښې کېدو. زهٔ په دې خوشحاله يم چې نن مونږ د ترقۍ په زمانه کښې اوسو او په رښتياؤ او دروغو کښې فرق کول څهٔ دومره ګران نهٔ دي، په شرط د دې کهٔ د قربانۍ په قاعدې ټيک عمل وشي.

ورونړو! نننى طالب علمان سباني شهريان دي، ملک د دوي نه صرف د رهنمائۍ طمع لري، بلکې د آزادۍ په جنګ کښې د عملي حصې اخستو هم. دوي د قوم خښتې او ځُونه ده چې به ترې د قومي آزادۍ لوئے عمارت جوړېږي، د دې ملک عزت د دوي په لاس کښې دے، د کالج يا د مدرسې په زمانه کښې دې هم دوي دا ذمه واري هېره نهٔ کړي چې کومه په دوي دلته د پېدائش په وجه د مادرِ وطن د طرف نه پرته ده. هغوي له دا ضروري خبره ياد ساتل پکار دي چې د تعليم ختمولو نه پس به هغوي اصلي دنيا کښې داخلېږي او د دې ملک د يو باعزته اوسېدونکي په شان به ژوند تېروي او د دې عزت حاصلولو د پاره به هغوي د دې وطن د دولت، عزت او خوشحالۍ دښمنانو سره د جنګ کولو د پاره بللے کېږي، هغوي به خامخا تکليفونه زغمي، خامخا به قربانۍ کوي او سختۍ به تېروي، د دې ژوند د آرامونو او ښهٔ ځيزونو نه به خامخا زړهٔ صبروي، د بل چا په يادو کښې به دا خبره دومره تازه وي يا نه لکه د طالب علمانو چې هغوي هره ورځ تاريخ وائي چې د دنيا نورو ډېرو قومونو خپله آزادي د قربانو او د نفس کُشۍ په مېدان کښې ګټلې ده. زما يقين دے چې زمونږ په نسبت اثر قبلونکي ځوانانو کښې د قربانۍ زياته جذبه ده، ولې چې مونږ د ډېرې آسانتيا او آرام سره عادت شوي يُو او د ژوند د نورو ډېرو ذمه وارو بار راباندې پروت دے، لېکن نوجوانانو طالب علمانو د پاره قرباني کول ډېر مشکل نهٔ دي، ځکه چې تکليفونه هغوي نهٔ شي دباوولے، د هغوي ذمه وارۍ لږې وي، قوت ئې ډېر زيات وي او انعام بې حده لوئے، کهٔ هغوي په خپل ژوند کښې مکمله سياسي آزادي حاصله کړه نو د هغې مېوه به هغوي په خپل ژوند کښې وخوري.

زما خطبه په ختمېدو ده، لېکن د ختمولو نه وړومبے زهٔ ستاسو توجه خپل ملک او د ملکيانو يو ډېر ضروري ضرورت ته راګرځوم، مونږ ټولو ته معلومه ده چې زمونږ د کلو خلق څهٔ رنګ ناکاره بې علمۍ کښې پراتهٔ دي، زهٔ دا خواهش لرم چې په تاسو کښې څوک د کلو اوسېدونکي دي او خوشحاله په دې يم چې نن زما په اورېدونکو کښې هغوي ډېر دي. هغوي دې خپلو کلو ته د تعليم د استاځو په توګه واپس لاړ شي. زهٔ په دې خبره ډېر خفه يم چې په مدرسه يا کالج کښې د تعليم حاصلولو نه پس زمونږ تعليم يافته نوجوانان په کلو کښې اوسېدل نهٔ غواړي او هميشه دا کوشش کوي چې ښاريو کښې پاتې شي او کهٔ چرې هغوي خپلو کلو ته لاړ هم شي نو هغوي غريب، بې علمه زميندارانو سره د خبرو کولو نه کرکه کوي او هغوي سره په ناسته پاسته ورته ځان بدي ښکاري. دا خپله بې عزتي ګڼي، د بد قسمتۍ نه داسې مثالونه چې تعليم يافته خلقو د بې علمه زميندارانو نه قصداً

نفرت کړے دے، هم لږ نۀ دي، هغه بې علمه کليوال چې د هغوي مصيبتونه د خپله ځانه نۀ دي، بلکه د يو ناقص طرز حکومت او د ناقص قومي قانونونو په وجه دي، ستاسو د همدردۍ مستحق دي، نۀ چې د نفرت. تاسو له د هغوي د تعليم دپاره په کلو کښې شبانه مدرسې پرانستل پکار دي او نۀ صرف ورته ليکل لوستل او حساب ښودل پکار دي، بلکې په حفظان صحت، په صفايۍ، په کفايت شعارۍ ورته هم هدايت کول پکار دي او ورله حقيقي امداد ورکول پکار دي چې هغوي خپل ژوندون زيات خوشحاله او با عزته کړي، په ټولو تعليم يافته خلقو د بې تعليمه خلقو د طرفه يو فرض پروت دے او هغه دا فرض دے چې د تعليم فائدې بې تعليمو ته ور ورسوي.

وروڼو! کۀ زۀ دغه شان لګيا يم نو خبر نۀ يم چې کوم ځائے ته به ورسم، دا يو ورکوټے غوندې نصيحت ؤ چې ما درته د خپلې عملي زندګۍ د لږې ډېرې تجربې نه پس وکړو او څۀ چې ماته ښۀ ښکارېدل تاسو ته مې بيان کړل. زۀ کاميابو طالب علمانو ته بيا مبارکباد ورکوم او هر ځائے چې يئ ستاسو د خوش قسمتۍ خواهش لرم. پښتون

**5 اپرېل 1938**